# د غني خان د فن څو اړخونه
# بحېثيت موسيقار، مصور او مجسمه ساز

## Various Aspects of Ghani Khan Art.
### (In the perspective of Music, Paintings and Sculpture)

**Dr.Nasrullah Wazir**
**Ghulam Murtaza Kakar**

**ABSTRACT**: In Pashto literature Ghani Khan has been a personality with versatile attributes. His life has got different aspects. Some where he is known as politician, counselor, poet, writer and a knowledgeable personality, where as some where he is known as historian, engineer, land lord and a kind father. How ever his life has got some other aspects where he has entirely examined his God gifted abilities and skills.
Thus in this research paper Ghani Khan's art of painting, sculpture, art of music and the individuality and skill there in and also his interest to all these have been logically discussed.
As a poet and writer Ghani Khan's personality is not indigent to any words / introduction, but being a painter, sculptor and musician, very less people are aware of his artistic attributes. Besides all these, in this research paper Ghani Khan's artistic attributes and other characteristics have been disclosed.

په پښتوادب کښې غني خان يوداسې شخصيت وو چې دشخصيت همه کړو وړو له ئې په خپل فن کښې او فن ئې په شخصيت کښې په حقيقي معنو سره يو ځائ کړي وو، نو هغه څوك چې دهغوئ د شخصي اوصافو او ياد هغوئ د فن ژورتياوې پلټل غواړي کولی شي چې خپله منشا دهغۀ دمتحرکه افکارو په رڼا کښې په ښۀ توګه ادراك کړی شي، په وجودي توګه که څۀ هم غني خان اوس په مونږ کښې موجود نۀ دی خو په فکري توګه دهغۀ شخصيت دهغۀ په فن پاروکښې بياهم مونږ ته ويړياومتحرك دی. په داسبب دلته دغني خان دفن او شخصيت چې کومه خاکه وړاندې کېږي له هغې نه مرادهغوئ فني اوفکري اوصاف په ګڼ اړخيزه توګه سپړل دي نۀ داچې دهغوئ دشخصيت خاکه وړاندې کول دي.

په پښتو ادب کښې د غني خان په حواله چې کوم کردار زمونږ مخې ته راځي هغه د پښتني تهذيب يوداسې ښکلې علامت وو چې جمالياتي مشاهده، جمالياتي ذوق اوجمالياتي سرور ئې تل د ژوندغوره نصب العين

ګڼلي وو او د پښتون دمېړني اولس دوجود يو داسې باکرداره فرد وو چې ئې د فن او فکرپه اساس خپل ځپلي اودرډېدلي اولس ته ډېر څۀ وړاندې کړي دي، هغۀ که له خپل فن سره بې کچه مينه ښودله نو هغه په دې چې دا ئې دخپل همه ګير او آفاقي پېغام دخپرولوغوره اومؤثره وسيله ګڼله.

په شخصي او فني بڼه رب تعالي غني خان ډېرغني پيداکړی وو، که نظم وو که نثر، مصوري وه که موسيقي، سنګ تراشي وه که انجنيري، د سياست ميدان وو او که د عشق بازي ګري وه په داواړو کښې هغه د يو باکماله شخصيت او بااستعداده فن کار په توګه پېژندل شوی دی.

هغۀ که يوخوا د خپل فن په واسطه د خپل شخصيت د باطني کيفياتو، ياد خپل قوم د شعوري بيداری اوياد خپل خيالي او تصوراتي جهان د لتهون تکل کړی نو بل خوا ئې د کلام له هرې مصرعې څخه د سوز او ساز يا د موسيقۍ دجهان ځنې خوارۀ سرودونه هم رااېستلي، هغه که د مست رنګين ماښام په رنګينيو کښې دي، که د ژمي دجړې په تپ تپ کښې دي، که دځان په تماشه بوخت دريدې ګل په ننداره کښې دي، که د سردرياب يا د دريا سوات يا د دريا کابل او يا د جيندي سيند په غاړه جوړ هرمازديګر د پېغلو او ځوانانود سترګو او قدمونو په نخا کښې دي، که چرته بره لرې دسوات په ميدانو کښې د شړشم ګلونو په پټيو کښې د مستو انجونودپروجې لوبې په ګډه کښې دي او که هغه د وطن په سردروکښې د پښتنومېړنيو او ننګياليو د سرشندنې په حماسو يا ترانو کښې اوريدل شوي دي..

يعني په حقيقت کښې د غني خان شخصيت او د هغۀ فن سره په يوه معنا دي، چې سرچېنه ئې له فکراواحساس ده که څه هم داظهارپه ذرايعو کښې به ئې فرق ضرور وي.

## دغني خان په شعر کښې موسيقي:

**فن موسيقي**: موسيقي د انسان په سرشت کښې اغېزل شوې ده د مختلفو غږونو (اصواتو) په يو ځای ادائيګي، دغږ يا غږونو تکرار او د هوا د څپو په خوځښت (ارتعاش) پيدا کولو سره انسان چې له دې څخه کوم لذت محسوسوي او په بېلابېلو موقعودهغې بيا بيا ګردان، دهغۀ زړۀ اوذهن ته چې

کوم تسکین او لذت د کومو ذرائعو په حواله ورسېږي هغه که د تېز باد یا د سیلۍ په شنهار کښې وي، که ددریابونو په مستو څپو کښې وي، که دجر جړوك (ابشار) په شرچړپ کښې وي اوکه هغه دمرغانو په ښکلیو او په زړهٔ پورې اوازونو کښې وي، داښکلي او زړهٔ راجلبونکي اوازونه نهٔ یواځې د انسان دپاره سحر انګېز ګرځېدلي بلکې په خپله دې مرغانو ته هم په جال کښې داګېرېدلو سبب ګرځېدلي دي .

په ابتدا کښې درنګارنګ غږونو د ادائیګي مهارت انسان محض د ښکار تر هدف پورې محدودساتلی وو، خو ډېر زر انسان و پوهېدهٔ چې پرته له دې دا یو څونور افاقي قدرونه هم لري، دې قدرونو په مستقله توګه انسان دې ته اړ ایست چې دا په باقاعده ډول دیو فن په توګه اختیار کړی دی، یقیناًدموسیقۍ دفن په پرمختیاکښې دانساني عمل ونډه زیاته ده ولې له دې خبرې سر غړونه هم ګرانه ده چې په ځنې وختو یاپه مخصوص حالاتو کښې به فطرت له انسان سره د سُرونو په پېژندنه کښې مرسته نهٔ وي کړې.

. په ابتدا کښې به موسیقي بېخي ساده وه او د اوزارو جوړښت به ئې هم د معمولي اشیاوو څخه اخذ کړل شوی وو،چې غرض ئې ددې فن یا هنر په واسطه د انسان داخلي احساساتو او یا دانسان زړهٔ او ذهن ته د تسکین سامان پیداکول وو خو د وخت په تېرېدو د دې د همه ګیر اثر پذیري له سببه بالاخره انسان دې ته اماده شو چې دا دې دخپل سکون د لمحاتو د تلاش، دناقراره زړهٔ د قرار او د روحاني کشش ددائمي تسکین په توګه هم ومني.

*"په اصل کښې د موسیقۍ تعلق محض له هغو اصواتو سره دی کوم چې زمونږ په غوږونو ښهٔ لګي او په هغې کښې یو ډول باقاعدګي وي. دغه شان ټول غږونه په دوه ډوله وېشل شوي دي، یو هغه چې صدائې محض دي، په دې کښې ټول هغه غږونه راځي کوم چې د موسیقۍ دترتیب [یاتړون ]دپاره موزون نهٔ ګڼل کیږي، بل هغه چې صدائې موسیقي ګڼل کیږي، په دې کښې هغه اوازونه شامل دي کوم ته چې یو خاص ترتیب ورکېدلی شي، هم دې ته غنائي اوازونه وئیلی شي"1*

دغه شان صدائې محض، صدائی مطلق یا اوازِ حرف هغه اواز نه دي:

*"چې کوم "تماکلی تناسب نه لري او د هغې د څپو شمېرنه نه شي کېدلی، لکه د (توپ) د ګولی د چاودلو غږ، د بجلی یا د وریځې برېښنا او ځنې نور، ددې په مقابل کښې صدائې موسیقي هغه وي کوم چې همېشه متناسب او متواتر اثر پیدا کوي، د متناسب معنا هم دا ده چې د غږ د پیدا کېدو له سببه چې کومې صوتیاتي څپې یا تموجات پیدا شي د هغوئ خپل منځي فصل دې همېشه په یو نسبت قائم وي، لهٰذا ټولې سُرتیانې د موسیقۍ غږونه دي"* 2 .

یا داچې، *"د حروف تهجي د ګروپونو داخلي ترتیب غنائي دی یعنې دا منل شوې ده چې د هر ګروه هر حرف یو سُر دی"* .3

خو دا سُر سنګیت څه شی دی؟ او دا راګ او تان بیا څه معنا لري؟ ددې اصطلاحاتو توضیح د موسیقۍ د نړۍ یو پوه اُستاد محفوظ کهوکهر داسې کړې ده چې:

*"د اواز په دنیا کښې مخصوص او موزو غږ ته سُر وئیل کېږي او که دغه غږ یو مخصوص مقام ته په رسېدو سره پر له پسې یووالی ولري او کښته پورته و نه خوځي نو دې ته سنګیت وئیلی شي، که څه هم له سنګیت څخه بالعموم سندره مراد اخستی شي او راګ د سُرونو هغه ښکلی ترتیب دی چې په غوږونو ښه لګي نودې ته راګ، او تان د سُرونو داسې مجموعې ته وئیلی شي کوم چې د راګ په خپرولو کښې په چار ورتلی شي"* .4

تر کومه حده چې د ساز تعلق دی نو په اسلامي ټولنه کښې د ساز و سُرود په حقله لږ ډېر شرعي او فقهي مسایل شته، دکومو په اساس چې دا یو غېر شرعي یا غېر اسلامي فعل ګرځول شوی، کېدلی شي یو نیم ځائ کښې دا چرته په خاموشۍ یا په درباري مرسته پر مخ بېول شوی وي، خودا یوه فطري فارموله ده چې هرکله دانساني ټولنې په همه ګیر نظام کښې او یادانسان داخلي او خارجي نظام (عوامل) یو بل پورې مربوط او هم آهنګ وي نو هلته انساني ژوند پُر سکونه او لحظه ئې بیا خوندوره تېرېږي، ولې هرکله چې داعومل خپل تر منځه بې ربطه او ناتراشلي وي نو هلته بیا په درست ټولنیز نظام کښې یا په خپله دانسان په احساساتو کښې هغه توازن یا اعتدال نه موندل کېږي کوم چې دیوې همه ګیرې ټولنې یا دیو کامل انسان دپاره لاژم وي.

انسـان دخپـل ژوند پـه اوږدو کښـې همېشـه د روحـاني او مـادي وسـايلو څخـه کـار اخسـتی، روحاني وسـايل هغـه چـې دمـذهب پـه اړ کښـې انسـان اختيـار کړي اومـادي ضـروريات هغـه کـوم چـې دانسـان د خـارجي او داخلـي احساسـاتو او جـذباتو مظهـر وي، هـم دغسـې د خـارجي احسـاس پـه لطافـت کښـې داخلـي احسـاس برتـر و غالـب ښودل شـوی اودهراحسـاس شـدت پـه تـاثرپوري مربـوط وي اوتاثرهغـه وخـت پيـدا کېږي چـې محسوسـات هـم اهنـګ اوغـوره ترتيـب اوترکيـب ولري، دکاينـات پـه دې نظـام کښـې رب تعـالی هـر شـی پـه بهتـرين ترتيـب و ترکيـب سـره پيـدا کړی، کـه نباتـات و جمـادات دي کـه د مزکـې او اسـمان جوړښـت دی کـه د سـمندر پـه څپـو کښـې د هـوا روانـي ده اوکـه پـه خپلـه د انسـاني وجـود تشـکيل دی، کـوم چـې د کائينـات لـه هرشـي څخـه پـه غـوره او افضـل ترتيـب و صـورت رغـول شـوی دی، پرتـه لـه دې الله تعـالی يـوازې انسـان پـه صـورت کښـې افضـل و برتـر نـۀ دی جـوړ کړی بلکـې ورتـه ئـې د عقـل و فکـر او خـواص برتـري هـم بخښـلې ده، يعنـي پـه يـوه معنا انسـان د الله تعـالی د جمـال غـوره او لـوړ نقش دی، خو جمـال محـض د انسـان د ذات يـا صـورت تـر حـده محـدود نـۀ دی بلکـې دا پـه هـوا کښـې، پـه رڼـا کښـې، او پـه اوازونـو کښـې هـم وقـوع پـذير کېـدلی شـي، لکـه څـه رنګـه چـې د ځنـو ځنـاورو او مرغـانو غږونـه منحـوس او د ځنـو اوازونـه ښـکلي او پـه زړۀ پـوري وي. د مرغـانو او ځنـاورو د شـکل او صـورت د حسـن نـه عـلاوه ځنـې وخـت د دوئ ښکلي او سُريلي اوازونه هم د دوئ د اسيرۍ سبب ګرځي.

زمـونږ پـه ټولنـه کښـې د زاهـد، واعـظ و ناصـح، مبلـغ، مقـرر، مـدبر، شـاعر او يـا کـوم نـور علامتونـه چـې معروف دي د دې درجـه بنـدۍ تـر شـا بنيـادي وجـه خـوهم ژبـه او اواز دی لکـه خـوش خُلقـي، خـوش ګفتـاري او د شـېرين زبـان اسـتعمال خـو هـم انسـاني حسـن پُرکشـش اودشخصـيت پـه ځلاکښـې لکـه د سحرکار ورکوي..

ښـکلا او ښايسـت د کاينـات د بـېلا بېلـو اشـياوو پـه رنګـه رنګـۍ کښـې د غـوره تناسـب يـا دبهتـرين ترتيـب او ترکيـب نـوم دی خـود حسـن و جمـال تعلـق يـوازې د زړۀ او سـترګو تـر پيمـانو پـورې محـدود نـۀ دی بلکـې ديـد و شـنيد دواړه د انسـاني حسـن و جمـال د ځيرنـې اصـلي مظهـر دي، نـودا څـه رنګـه کېـدلی شـي چـې سـترګې، پـوزه، خولـۀ او ځنـې نـور شـيان دې د خـدای پـه نعمتونـو مـاړۀ وي

ولـې غوربږونـه دې د دې څخـه بـې برخـې وي، آيـا الله تعـالی لـه خپلـو بنـدګانو څخـه محـض د داسـې حسـن او جمـال غوښـتنه کـوي د کـوم تعلـق چـې يـواځې سـترګو او له زړۀ سره وي ؟.

*"آيـا د [رب تعـالی] پـه نـزد د حسـنِ صـوت يـا د حسـنِ سـماع هـېڅ قـدر و قيمـت نـۀ شـته؟ هغـۀ يعنـي رب تعـالی يـواځې سـترګو دپـاره پـه دې درسـت کـاينات کښـې د حسـن او جمـال او د زينـت او ارائـش تـر شـمار تېـر منـاظر خپـرولـو باوجود دې بدقسمتو غوږونو ته حسن او جمال نۀ دی پيدا کړی".* ۵.

کـه څـۀ هـم پـه قـرآن عظـيم الشـان کښـې د سـاز د ممانعـت او يـا د اختيـارولو واضـح فـرامين نـۀ دي ليـدل شـوي او هغـه څـۀ چـې د خـوارږو، نرمـو او شـيرينو اوازونـو اختيـارولو پـه بـاب ذکـر شـوي دي،هغـه پـه بشـپړه توګـه پـه سـاز يـا موسـيقۍ بانـدې پـه پـوره توګـه نـۀ شـو لاګـو کولای،البتـه دا خبـره سـمه ده چـې دا مسـئله لانـوره پلتنه غواړي او علماء کولی شي چې د دې مسئلې يو بهتر حل را وباسي.

**پښـتون او د موسـيقۍ فـن**: ژونـد يـو ارتقـائي عمـل دی او د کاينـات هـر شـی د دې تـابع دی او ژونـد پـه خپلـه پـه مثـال لکـه ديـوفطري سـاز يـا نغمـه دی کـوم چـې د انسـان لـه زوکـړې سـره پيـل کيـږي او پـه مـرګ ئـې بېرتـه خاتمـه وشـي، لکـه د انسـان درسـت حرکـات او سـکنات د موسـيقۍ د زېـر و بـم پـه مانـند خـوځي را خـوځي، ولـې ددې موسـيقار هغـه لـوئ او عظـيم ذات دی چـا چـې د انسـان پـه تخليـق کولـو سـره دنيـا کښـې د خپـل وجـود پـه خپلـه لټـون وغوښـت، د هـر لحظـه بدلېـدونکي انسـاني ژونـد د کيفيـت پـه څېـرددې دُهـن، سُـر، تـال او لـې وغېـره هـم اوري را اوري. پـه کائينـات او يـا پـه انسـاني ژونـد کښـې داد نغمګـۍ کيفيـت هـر څـوك محسوسـولی شـي، خوشـرط ئـې دادی چـې هغـه دې اول پـه ځـان کښـې هغـه حس و لري کوم چې د روح او بدن تر منځ تېرونکي سُرونه اورولی شي.

لنـډه دا چـې موسـيقي ژونـد دی، او د ژونـد هغـه کـوم اړخ دی چـې هلتـه دې د سـاز عمـل دخـل نـۀ وي، لکـه پـه عـام روزه ژوند کښـې هـر کلـه چـې يـو انسـان لـه پرلـه پسـې چـارو زبـښـت سـتړی سـتومانه شـي نـو موسـيقي هغـه واحـده ذريعـه ده چـې د انسان ستړي اوستومانه ذهن ته د سکون او ارام څپې وړاندې کولی شي.

لـه فنـون لطيفـه سـره د پښـتنو د پيوسـتون پـه بـاب تـاريخ او يـا اثـارِ قديمـه زمـونږ څـۀ خـاص مرسـته نـۀ کـوي او هـم نـۀ د پښـتنو پـه وطـن کښـې پيـدا شـوي زاړۀ

اثرات او یا د دې سیمې زاړۀ تهذیبونه د دې ملت د تمدنې ژوند څۀ خاص څرک په لاس نۀ راکوي، البته له جدیدو سائنسي پلټنو څخه په دا اړه ډېر امیدونه شته چې به ددې وطن تهذیبي جولۍ ته یو څۀ خوامخوارامونډۀ کړي.

دمصورۍ،سنګتراشۍ یا د تعمیر په نمونو کښې مونږ لا څۀ داسې تشخص نۀ دی موندلی چې هغه دې خاص دپښتون فکر پیداوار وي،یواځې ادب اوموسیقي دوه داسې شیان دي چې دپښتون دفنې اوفکر اثارترلاسه کولی شو۶.

افغانان (پښتانۀ) خپلې ذهنې انتها پسندۍ او یاسم دلاسه دجذباتي کېدنو عمل دوئ د یوې خوا هم نۀ پرېښودل، که مذهبي انتهاپسندي ته ئې پام وکړل شي نوخپل هر څۀ ئې په دا ډګر د مخه لاقربان کړي دي او پاتې لږ اوډېر و ته هم لګیا دی په خپله کندې کندي، هغه که په فن لطیف کښې دي، که په تهذیبي اثارو کښې دي اویاکه دژوندپه سترو فلسفو کښې دي، دا ځکه چې د دې په حقله کوم دینې تشریحات چې د دوئ تر غوږو ور رسول شوي دي، امکان نۀ شو کیدی چې پښتانۀ دې له هغه دینې اوامرو ورواوړي، تردا پورې چې دځنې تشریحاتوپه اند ښنه دوئ شاعري ته هم لاپوره په سمه سترګه نۀ ګوري. نوڅۀ باك چې افغانانو به خپل قدیم ادب او فنونِ لطیفه په خپله له منځه وړي وي، نۀ دا چې دا به دکومې بلې حادثې ښکار شوي وي. دغه شان د موسیقۍ فن کله هم افغانانو د یوې پېشې په توګه نۀ دی اختیار کړی، که څۀ هم پښتانۀ دسازو سُرود بې کچه شوقین دي ولې د افغانانو مزاج خوهم څۀ عجب کیفیت لري، په خپله به درسته شپه د رقص و سرود په محفلونو کښې غرق ترك وي، ولې له دې فن سره وابسته خلکو ته به کم ظرف یاپه سپك نظر ګوري، کوم ته چې دوئ په خپله روایتي اصطلاح کښې "ډمان" وائي،یعنې افغانانو کله هم دا فن په خصوصي توګه نۀ دی اختیار کړی، بلکې ددوئ په اصطلاح تل دې مخصوصې طبقې ورته په خاص مواقعو د ساز و سرود رنګین محفلونه جوړ کړي دي.

*په موسیقۍ کښې هم اګرچې دپښتون مزاج او نفسیات څرګند دی .ولې دافن هغوئ په خپله نۀ دی خپل کړی بلکه دخپل دغه فنې ذوق ضرورت ترسره کولودپاره ئې غیر پښتني فنکاران په خپل تهذیب کښې درآمد کړي دي . . .*

*داپه دي چې پښتنو فن چېرې هم دپېښې په طورنۀ دي خپل کړی، بلکه پېښه ئې يوه هم نۀ ده خپله کړې. سوا دتوره بازۍ او سپاهي ګرۍ د پېښې نه.* ٧

د پښتنو موسيقي، لـه موسيقۍ سره د دوئ نږدې والـی او د نورو قومونو د ساز و سرود څخه د دوئ پر موسيقي د اثراتو په حقله کـه څۀ هم تراوسه داسې يو جامع تحقيق نۀ دی رامنځ ته شوی ولې په نړۍ کښې د فنِ موسقي او د آلاتِ موسيقي په باب هېڅ يو قوم بشپړه دعوٰی نۀ شي کولی چې دا خالصتاً د دوئ ايجاد دی، البته ځينو اقوامو د موسيقۍ په ځينو مخصوصو آلاتو کښې دخپل رسم و رواج يا د وخت او حالاتو د غوښتنو مطابق بدلونونه ضرور کړي دي، ولې بحېثيت فن د دې وده، وسعت او رنګه رنګي په بيلا بيلووختوکښې د مختلفو طبقو د شريك محنت زيار بللی شي.

په افغاني کلچر کښې د موسيقۍ په حواله چې کوم تاثر ليدۀ شي، د هغې په اساس پښتون قوم مزاجاً د موسيقۍ ډېر شوقين او ډېرجذباتي تړون ورسره ښائي، خو بحېثيت پېشه ئې همېشه د دې له اختيارولو څخه ډډه کړې ده، ځکه چې د دوئ تصوردارنګه جوړ شوی دی چې موسيقي اويا له دې فن سره تړلي خلق سپك بولي او دا تصورد دوئ د اناپرست طبعيت څخه ښخي اپوتې دی، ولې عجيبه مسئله داده چې پښتنو خپل محفلونه خو د دې فن او يا له دې فن سره تړليو فنکارانو په سبب رنګين او اراسته ساتلي دي، ولې په خپله ئې کله هم ددې د اختيارولو تصور قدر هم نۀ دی کړی ځکه چې دا فعل يا پېشه په خپله د دوئ د ټولنيز ژوندد اقدارو او له مذهبي رواياتو سره متصادم ده، ځکه ئې په شعوري توګه د دې فن له قبلولو څخه ډډه کړې ده او په پښتني ټولنه کښې له دوئ څخه دسازيندوو د لرې پاتې کېدو يوائينی علت هم دغه دی.

## شاعري او موسيقي:

*ژوند او ساز دواړه د باد دي*
*ژوند هغه بويه چې د ساز وي*
*ساز هغه چې سا په کښې وي*
*سا هغه چې د نياز وي* ٨

شـاعري تـه بـالعموم د حـروف تهجـي داو پـېچ يـا بـازي وئيلـی شـي، پـه دې کښـې تـوري يـو تـر بلـه مخکښـې وروسـتو پـه بهتـرين ترتيـب، ترکيـب او تناسـب سـره کښېښـودلې شـي، پـه دې کښـې د حـروف تهجـي بنـد ش، د مقـرره پيمـانو پېـروي او د رِدم تـلاش د شـاعرۍ خاصـه ګڼلی شـي او هغـه څـوك چـې خپـل تخيـل په موزون حروفو کښې وړاندې کوي هغه ته بالعموم شاعر وايي.

*"دهـر حـرف اوازيـو صـوتي وي دغـه شـان هـر لفـظ ديـو خـاص صـوت متحمـل وي، څـۀ رنګـه چـې موسـيقي زيـاتره داصـواتو دمخصـوص اسـتعمال لـه کبلـه پـه وجودکښـې راځـي ځکـه پـه شـاعري کښـې دحـرف او د الفـاظو صـوت هـم دموسيقۍ په رنګه اثرپيدا کولو دپاره په چار راوستلی شي".* ۹

پـه اوسـنۍ نـوې شـاعري کښـې د روايتـي اصـولو او قوانينـو لحـاظ هغـه د پـه خـوا پـه څېـر نـۀ ازمويـل کېـږي ولـې چـې پـه شـعر کښـې شـعريت دتوريـو لـه ردم څخه هغـه وخـت راپورتـه کېـږي کلـه چـې تـوري پـه يـو مخصـوص ترتيـب يـو بـل سـره کښېښـول شـي او د دا توريومـوزون ترتيـب د شـعر او د نثـر تـر مـنځ بنيـادي تـوپير ګڼلی شي يعني په اصل کښې غنايت شعرته شعريت وربخښي.

"د کولرج په نزد: *شاعرته دې دغنائي لطف حس وي او ورسره ورسره دې دهغې دوړاندې کولو صلاحيت هم ولري... شاعر چې کومه ژبه استعمالوي هغۀ ته ددې احساس وي چې هغه ژبه دنثر څخه په اپوټه استعالوي. دهغۀ فطري غنائي حس دهغۀ په شعر کښې دروح په ډول ورګډ وي شاعرته دتخليق کولو په وخت له خپل کلام څخه غنائي لُطف اوريو ډول جمالياتي حظ وررسېږي هم دغه کيفيت په يوقاري باندې دشعر دلوست په وخت اويا د اورېدو په وخت خپرېږي".* ۱۰

خو شعر محض د موسيقۍ دپاره نۀ ليکل کېږي بلکې په دې کښې موسيقت په فطري بڼه په خپله موجود وي البته ددې تاثر چې په څۀ زياتېږي هغه په شعوري توګه په دې کښې د سُرونو بندش له کبله وي ،يعني:

*"شاعري هغه ساز دی چې دهغې په پردو کښې دجذباتو پټې نغمې خوبولې وي چې محض دچېړلو يوه اشاره غواړي.* ۱۱

او د کـولرج دا قـول پـر ځـای دی چـې"د چـا پـه روح کښـې موسـيقي نـۀ وي هغـه کله هم په صحيح معنو سره بنۀ شاعر نۀ شي جوړېدلی.

**د غني خان په شاعرۍ کښې غنائيت**: غني خان په خپله شاعري کښې شاعرانه موسيقي او د موسيقۍ جمله اصناف په نظر کښې ساتلو سره الفاظ په بهترين ترتيب، په فطري ساخت او د افغانانو د مزاج مطابق سکښتلي دي په خپل فن کښې ئې دموسيقۍ دهر ادا خاص خيال ساتلی، وئيلې شي چې د هغهٔ د شاعرۍ ځينې بڼکې د عوامي شاعرۍ طرز لري او ځينې اشعار ئې د عروضو يا فني تقاضو خاص خيال نهٔ ساتي، خو د هغوئ په شاعري کښې د عوامي طرز ګډون له دې سببه وو چې هغه په دې پوهېدو چې په دارنګه شاعري کښې آزاد خيالي، غنائيت او د فطرت انعکاس څومره قدرکېدلی شي، بل دا چې هغوئ شاعري د عروضو يا روايتي اصولو او قوانينو عملي کولو په خاطر نهٔ ده کړئې بلکې د هغهٔ د فن بنيادي او يواځنی مقصد خپل فکر او احساس ويرياکول وو. ځکه په شعر کښې د عروضو پامته دارکم اود رِدم يا آهنګ ئې بيا خاص خيال ساتلی.

لکه څهٔ رنګه چې په عوامي شاعري کښې يو خوا جذباتيت يا جذباتي عنصر زيات وي نو بل خوادې کښې نېغ په نېغه ديو قوم د مزاج او د هغوئ د جذباتو او احساساتو ترجماني تر فني ادب زياته وي، ځکه په دې کښې جذباتي پن زيات او موسيقي يې د عامي موسيقۍ په نسبت لږ غوندې تېزه وي، د کوم له کبله چې سامع زر په جذباتو کښې راشي او د جذباتو د بهير څپې په پرېمانه کېدو سره هغه بيا خپل هدف ته په اسانه ورسيږي. غني خان هم د پښتنو د مزاج مطابق ځينې وخت د اولسي سندرو په ساز، ځنې وخت د کلاسيکي او يا يو نيم ځای د نيم کلاسيکي سُرونو په طرز خپلې شاعرۍ ته دوام ورکړی دی.

غني خان د يو داسې ملت وګړی وو چرته چې فطرت پرېمانه او د اولسي ادب يا د عوامي موسيقۍ وليې (جرړې) ډېرې ژورې او خورې دي. هرکله چې هغه د پښتونخوا له سردرو، د غرو او رغو څخه بهر د يورپ په خوندورو نظارو کښې د خپل خيال او فکرله لوړولو وروسته بېرته وطن ته راستون شوی نو يې د هند په شانتې نکيتن کښې د هند نامتو فلاسفر او د عوامي ادب منلي استادان ټېګور او ددې پوهنتون نورو نوموړيو استاذانو لکه نندلال بوس او رام کنکر څخه هم په فنونِ لطيفه کښې ډېر څهٔ زده کړي وو، هم دغه وجه ده چې

د غني خان په شاعرۍ کښې چې کوم عوامي طرز محسوسيږي په هغې دشانتې نکيتن اثر زيات خپوردی.

غني خان له موسيقۍ سره ډېره په زړۀ پورې مينه او علاقه لرله، د هغۀ په شاعرۍ کښې د خوشحال بابا د ستار، رباب، نۍ ا و چنګ اظهار هم په واضح توګه محسوسېدلی شي، هغۀ به عموماً په ستار او رباب د پښتو عوامي سندرې اورولې، د رباب خو ترحده زيات شوقين وو او د غږولو يې هم ښۀ مهارت لرلو، البته لکه د نورو پښتنو په څېر هغۀ کله هم موسيقي د يوې پېشې په توګه اختيار نۀ کړې شوی بلکې دا ئې شوقيه يا د ساعت تېرې په خاطر اختيارکړې وه، د دې وجه دا وه چې غني خان هم چونکې يو غېرتمن پښتون وو او په پښتني اوصافو کښې ئې تر هېڅ چا ځان کم نۀ ګڼلو ځکه يې له دې فن سره په بشپړه توګه انصاف و نۀ کړی شو، که څۀ هم هغۀ د موسيقۍ د جهان له ډېرو سرودونو، راګ او راګنيو سره بلدتيا لرله، د الفاظو د زېر و بم، د توريو ترتيب، جوړښت او له هر رنګه معناوو سره هم ښۀ بلد وو، ځکه خو د هغۀ غزلې په موسيقۍ زرسکښتل کېږي چې موسيقي له د مخه په کښې موجوده وي کومو ته چې موسيقاران ترتيب لټوي. له دې خبرې دا احساس په اسانه کېدلی شي چې هغوئ په شاعري کښې غنائيت ته څومره اهميت ورکولو.

هغه يواځې په اشياو کښې غنائيت نۀ ترسيمولو بلکې په خپله د انسان په وجود کښې هم يو ډول غنائي کيفيت محسوسولو، لکه د دۀ په دې شعري کښې ئې محسوسولی شئ.

*وړه چېنه شوه چرته روانه*
*د ژوند او مرګ يې شروع کۀ ساز*
*ژوندون ژوندی شو، عشق را زرغون شو*
*ښايست پټ کۀ شال کښې د مينې راز*
*بيا خزان راغی ګلونه لاړل*
*ستار شو غلی او شراب کم*
*ځواني رخصت شوه، خندا نايابه*
*دعا اوږده شوه او رباب کم* ۱۲

ژونداوسازدواړه د باد (هوا) دي، ژوند هم د ساه په زوردی او ساز هم د هوا له څپو څخه دی، ژوند هغه چې پُر لطف، حسین او پُراسائش وي اوغني خان هم دارنګه ژوندته ژوندوئیلی دی. لکه چې وائي:

*ژوند او ساز واړه د باد دي*
*ژوند هغه بویه چې د ساز وي*
*ساز هغه چې ساه په کښې وي*
*ساه هغه چې د نیاز وي* 13

غني خان چې دسازونو او سرودونوکوم کیفیت بیان کړی هغه یوائې د دې فن سره شناسه وګړي محسوسولی شي:

*زهٔ یو مست شان لېونتوب یم*
*د هوا په اس سورېږم*
*که یو رنګ د یار د سترګو*
*شال رنګونه شم ګډېږم*
*حقیقت مې نهٔ شته باد یم*
*مستول کوم مستېږم*
*په خندا کښې مې ژړا ده*
*په خفه سترګو خندېږم*

*دا زهٔ تش د خیال دهوکه یم*
*که یو ښایست یم چې خورېږم*
*که یو مست د باد نیلی یم*
*په فکرونو کښې ځغلېږم* (14)

رباب چې د موسیقۍ یوه آله ده، په هر دورکښې شاعرانو په خپلو اشعارو کښې دا د یو علامت په توګه راوړی دی خو د دې د ساخت په حواله یو څا هم کله داسې فلسفیانه بحث نهٔ دی وړاندې کړی لکه غني خان چې داپه کوم منفرد انداز سره څېړلی. د هغهٔ په اشعاروکښې که د رباب بیا بیا ذکر راغلی دی نو وجه ئې دا وه چې دا د هغهٔ د خوښې او یوه په زړهٔ پورې آله وه او د

هغـۀ پـه اشـعارو کښــې دغنائیـت کـوم زیـاتوالی چـې لیـدۀ شـي پـه هغـو کښــې درباب خپل اثر هم شامل دی.

د رباب د ساخت په حقله د غني خان دې اشعارو ته توجه وکړئ.

*ربــاب څـــه دی مړګـــلووری او د تـــوت وچـــه تنـــه ده*
*خـــو چـــې ســوز د ادم راشــي هالــه هنــګ وکــړي ربـاب*
*کلــه نــور شــي کلــه نــار شــي کلــه غــم شــي او ژړا شــي*
*دا ځیګــر د ربـابي دی چـې هـم جـام شـي هـم شـراب* 15

پرتـه لـه ربابـه سـتار هـم پـه پښتو موسـیقۍ کښې یـوه منفـرده آلـه ده چې ئې عـام پښـتانۀ د خوښـۍ پـه محفلونـو کښـې کلـه نـه کلـه اسـتعالوي او پـه پښـتو شـاعرۍ کښـې ئې هـم ذکـر د یوعلامـت پـه توګـه شـوی دی. غنـي خـان کـه یـو خـوا د ربـاب سـره بې کچـه مینـه لرلـه نو ورسره ورسره ئې سـتار هـم د خوښـې آلـه وه. کلـه بـه چې پـه هغـۀ یـو داسـې کیفیـت را خپورشـو چـې زړۀ بـه ئې لـه جهـان نـه بېـزار شـو نـو ربـاب یـا سـتار بـه ئـې راواخسـت او نغمـه بـه ئـې شـروع کـړه. هسـې خـو ربـاب د لرګـي یـوه دَړه وي کومـه چـې دشـهتوت لـه تنـې راایسـتل شـوې وي، ولـې د دې لرګـي پـه خمیـر کښـې چې د غنا کوم کیفیت پټ دی هغه غني خان داسې ادراکوي:

*خـــو د ســـولو دړه نـــۀ یـــم :: ســـاهو څانګـــه د شـــهتوت یـــم*
*رانـــه جـــوړ کـــه یـــو رنګـــین او :: لـــونګین غونـــدې ســـتار*
*کــه یـو تهنــګ وي کــه زر تهنګــه :: ښـۀ پـه سـور کښـې بـه غرېـږم* 16

بـل ځـای غنـي خـان پـه یـو نظـم "سـاز" کښـې د موسـیقۍ د نوعیـت پـه بـاب څـه دا ډول ګویا دی:

*ورکـــړه شـــرنګ دې ســـتار لـــه یـــاره :: نـــوی د منـــي مانښـــام دی*
*نـــوې ســـپوږمۍ راختلـــې ده :: نـــوي ســـرور کښـــې خیـــام دی*
*آه! د زړۀ تارخـــانو تـــه دې :: ګـــوتې د ســـاز ورښـــکته کـــړئ*
*ســـترګې مینـــې پـــه غـــم ډکـــې :: ډکـــې د سُـــر او صـــنم ډکـــې*
*او د خـــاورو ســـتار کښـــې تـــا :: څنګـــه د ابـــد قیصـــه جـــوړه کـــړه*
*او د یـــو شـــرنګ او تهـــګ نـــه :: مـــا لـــه مســـتي نشـــه جـــوړه کـــړه*

*تــا د نســـیم د خبـــرو نـــه :: مـــا لـــه فریـــاد د بلبـــل کـــړو جـــوړ*
*او د نســـیم د خبـــرو :: مـــا لـــه تصـــویر د جانـــان کـــړه جـــوړ17*

داسې پـه سلهاوو مثالونـه دهغـۀ لـه شـاعرۍ څخـه اخذکېـدلی شـي کـوم چې دهغــوئ د شــاعرانه ذوق اود موســیقۍ پــه فــن کښــې د کمــالِ مهــارت لــوړ دلیــل ګرځېدلی شي.

## غني خان بحیثیت مصور او مجسمه ساز:

*دا مصـور پـه خپـل رنـګ مسـرور :: ټـول جهـان مسـت و سرشـار وینـي*
*ډنـه کښـې څپـې او خنـدا د سـیند :: څـاڅکي کښـې مـخ د ابشـار وینـي*

د غني خان د فن په حواله یو پوهـ لیکي چې:

"دیـو متـین او دروبـین مصـور او مجسـمه سـاز پـه توګـه غنـي خـان پـه نړیوالـه سـطح پېژنـدل شـوی د رنګونـو او د تکنیـک پـه اسـتعمال کښـې هغـه دمقبـولِ عـام رجحانـاتو پابنـد نـۀ دی، د هغـۀ نـیم تجریـدي، نـیم اظهاریـت پسـندانه تصـویرونو لاینونـه، شوشـې، زاوئـې او رنـګ د هغـوئ د ټـول عمـر د مشـاهدې، لوسـت او د تجربـې عکـاس دي، هغـه ددې تصـویرونو پـه تخلیـق کښـې لـه درسـي اسـباقو ځـان بالاترساتلوسـره ځانتـه یـو منفـرد اسـلوب روغ کـړی، د مجسـمو او تصـویري پېکرتراشـۍ پـه مرسـته ئې د مردانـه خـدوخال پټـې قیصـۍ ډېـرې پـه کامیـابۍ سـره رابرڅېـره کـړې دي،انسـاني احساسـات، جـذبات او تـاثرات هغـوئ د خپـل مـوئې قلـم او تېشـۍ پـه مرسـته پـه انسـاني څېـرو کښـې دا ډول مقیـد کـړي دي چـې کتـونکی ارو مـرو ځـان تـه راجلبـوي، د هغـۀ تصـویرونه اومجسـمې پـه کتلـو سـره یـوه بـې درکـه پرېشـاني او احسـاس پـه انسـان راخپورشـي اودا لـه ورایـه دهغـۀ دتصویرونود رنګ او د خدوخال په تت غږ واوړي.**18**

هغـه مهـال کلـه چـې انسـان پـه غـارو او ځنګلونـو کښـې اسـتوګنه کولـه او لا یـې د خپـل مسـکن تعـین نـۀ وو کـړی، هلتـه بـه هـم انسـان د خپـل چاپېریـال دجمالیـاتي عناصـرو یـادځني واقعاتوپېښـې نـورو تـه دوړانـدې کولوهڅـه کولـه، بیـا کلـه چـې دیـداو شـنید دعلامـت او نقطـې پـه حیثیـت و پېژنـدل شـو نـو پـه دې علامتونـو او نقطـو کښـې د ربـط او تسلسـل پیـدا کولـو پـه غـرض چـې دا پـه خـط

واړول شول، پس له هغه وخته دانساني تهذيب د پښل لړۍ پيل شوه، بياڅنګه چې تهذيبي وده مخ په بره تله نوددې خطونوساخت د جيوميټرۍ په مختلفو ساده اشکالو کښې د يو واضح ترتيب، ترکيب، آهنګ اود آرټ موزونو دايرو دپاره غوره کړلی شول. وئيلي شي چې دتجريدي آرټ نقش هم له دغه وخته راشروع شوی دی. په ابتدا کښې به ددې دايرو او خطوطواُصول څۀ قدر ساده وو ولې وروسته دا بيا د علم رياضي په ضمن کښې او په خصوصي توګه د جيوميټرۍ په ميدان کښې يومنفرد فن وبللې شو، داخبره ښاغلی زوارحسين هم داسې وړاندې کړې ده:

"په تخليقي فنونو کښې راغلي ټول فطري اوتجريدي اشکال . . . په دوه ډوله وېشل کېدلی شي، په فطري اشکالو کښې ونې، ځناور، انساني شبيهې او مختلف عناصر فطرت شاملېدلی شي، له ډېرې زمانه څخه دغه شکلونه د مصورۍ، شاعرۍ او د مجسمه سازۍ خاص موضوع ګانې ګرځېدلې دي، د دې محاصل د فطرت دکړکېچ نامياتې کشش او ګداز دی د فطري اشکالو تر څنګ دعکسونو يوه بله زړه شجره ده کومې ته چې تجريدي، جيوميټريکل، اقليدسي يا دميکانکي جماليات نوهم ورکېدلی شي. **19**

دا که هرڅه وي. خو له دې څخه سر غړونه هم ګرانه ده چې:

"ددې تجريدي آرټ په شا اصل ماخذ د جيومترۍ ساده اشکال دي يعني خطِ مستقيم اومنحني، مربع، دائره، مستطيل، بېلن او ځنې نور. **20**

دا هغه خطوط دي چې له کبله ئې د مصورۍ درست نظام قايم دی، غرض دا چې فنونِ لطيفه له پېړيو راهيسې د انساني فکر د بلند خياليٰ د ازمويني د خوښې مشغله ګرځېدلې ده. نۀ دا چې انسان په يو مخصوص زمان کښې دې ته تقويت وربخښلی او بيا ترې روګردان شوی، داسې هم نۀ ده بلکې د نورو فنونو په شان له دې سره هم انسان په هر دور کښې شناسه پاتې شوی دی. مونږ ګورو کله چې يو ماشوم د لوبو په وخت په مزکه د کږو وږو کرښو په کښلو سره د خپل فکر اظهار کوي، دا ماشوم ته نۀ خو چا ښودلی وي او نۀ چا دی په داسې کولو مجبورکړی وي، بلکې دا هرڅۀ هغه د خپل فطري مېلان مطابق کوي، دا ځکه چې د هغۀ لاشعور هغه و دې ته مجبوروي چې د هغۀ داخلي احساسات له دۀ څخه د اظهار تقاضه کوي، د وړوکيو يو بل عادت کله

چې هغوئ له لمدو ختو یا خیشتو خاورو څخه ډول ډول د لوبو شیان (کهېلونې)، د انسان رنګه رنګ جوسې، خونې (کورونه) ځناور او یاد مرغانو کومې نمونې جوړوي، دا هم دانسان د داخلي عمل یو غېر شعوري مظهردی، البته دا خبره سمه ده چې د دې په وده او پرمختیا کښې د زماني لوازماتو، انساني مشاهداتو او تجرباتو بیا ستر کردار ادا کړی دی. دغسې دانسان د لباس او خورك نه واخله داستوګنې ځایونه، د جوماتونو میناریې، د قبرونو ارایش او ځینې نور شیان ټول په دې عمل کښې راځي، دا بیله خبره ده چې دا فن (فنون لطیفه) دنړۍ په ځینو برخوکښې د مذهب د کلکو ګزارونوهم ښکار شوی چې له کبله زښت زیان هم ورته رسېدلی دی، ولې وخت او فطرت هغه غوره منصفان دي چې یې تل د انسان د تخلیقي فکر، د جدت پسندۍ اودارتقا په مقابل کښې درست غېر حقیقي، عارضي او جعلي بندشونه له منځه وړي او دانسان تخلیقي و تعمیري فکرته یې پرمخ وده ورکړې ده.

غني خان چې په څۀ ډول ټولنه کښې زېږېدلی وو هلته دعلم وادب یا بالخصوص د فنون لطیفه په حقله ښۀ تاثرنۀ وو. تر دا چې ددیني علوموامراکزهم هلته بېخي کم وو، په خپله د غني خان پلار باچاخان هم یو سخت ګیر پښتون مزاج شخصیت وو اوهغۀ به د هغوئ پېټنګز او مجسمې جوړول غېر اسلامي فعل ګڼلو او له دې کبله ئې د هغوئ دغه عمل څو څو واره ورتهس نهس کړی هم وو، ځکه چې باچاخان دغو شیانوته پرته بې دوخت له زیانه بله کومه معنا نۀ ورکوله، هغه وخت کله چې له شانتې نکیتن څخه د غني خان د نۀ رااېستلو په خواست باچاخان چې ګاندهي جي ته کوم ځواب وئیلی وو له هغې څخه دفنون لطیفه په حقله نۀ یوازې د باچاخان بلکې ددرست پښتون دمزاج عکاسي په واضح ډول کېدلی شي. د باچاخان ځواب وګورئ:

*What would happen to the world if ghani applied read and colours to it,"21?*

خو د دې هرڅۀ باوجود غني خان بیا هم دامشغله جاري وساتله او تر اوسه چې د هغوئ د مصورۍ یامجسمه سازۍ په حقله کومې نمونې یا اثار ویړیا کړل شوي دي په هغوکښې دغني د فن یو خاص ځانګړتیا داده چې هغوئ په خپلوفن پارو کښې محض څېرې (څهرې) نقش کړې دي نۀ داچې کُل وجود. دا

ځکه چې د انسان د فکري عمل کړۀ وړۀ تر ډېره حده د انسان په څېره يو خاص نقش ښايي. د غني خان د دې عمل په حقله يو پوه ليکي چې:

*"I just made faces from childhood from the very beginning I have only draw faces,I don not draw any thing else, I think it is all a waste of time, I means when I did sculptures of grown up peoples, I did a big one of a Prophet, it is so big it is in the Shanti Niketan museum. That one of course,I did the whole body and every thing.But the other thing I did were only faces".22*

يعني په مصوري او مجسمه سازي کښې دهغوئ د خوښې موضوع څېره راغلې ده، ځکه چې په څېره کښې د انسان د داخلي کيفياتو مکمل نقش موجود وي، هغه وخت کله چې انسانان په جذباتو کښې له يوبل سره مخامخ وي نو د هغوئ د څېرو تاثرات دموضوع دنوعيت په لحاظ اوړي رااوړي، او دا يو حقيقت هم دی چې د انسان داخلي تاثر په ژبه يا دالفاظو په صورت کښې راوستو د مخه اول په څېره کښې منعکس کېږي، په کومو چې د نفسياتو ماهرين يا دور انديشه خلك سمدستي پوهېدلی شي. په انساني څېره ښکاره کېدونکي دارنګه تاثرات زياتره د پوخ عمرانسانانوپه څېروکښې په اسانه محسوسېدلی شي، ځکه چې د کم عمره انسانانو څېرې ترداعمره د نشو و نما په حالت کښې وي، نو له دې کبله دهغوئ په څېرو هم څۀ خاص نقش نۀ پاتې کيږي.

په دغه پيمانه که دغني خان فن پارې يو نظر وکتلی شي نو په هغو کښې دپښتنې انجونو او ځوانانو د حسن و جمال او جلال واړه نقشونه له ورايه برېښي. د څېرې په نقش کولو کښې يا د چا پېښې کولو د هغوئ له وړوکوالي څخه مشغله وه هغۀ به اکثر د خپلودوستانومزاحيه خاکې کښلې، هغه مهال کله چې هغوئ هلته په شانتي نکيتن کښې وو، نو هم به يې د خپلو دوستانو او استاذانو مزاحيه خاکې کښلې، کله چې د هغوئ استاذ نندلال بوس دا محسوسه کړه چې دغني په داخل کښې يو لوئ فن کار پټ دی نو له هغۀ (غني) څخه ئې وغوښتل چې دفنونِ لطيفه وخانګې ته ځان معارفي کړي. هم دا دشانتي نکيتن د ماحول او د استاذانو د مشفقانه رويو اثر وو چې د هغوئ په ذهني او فکري صلاحيتونو ئې ستر اثر پرېښود.

که څۀ هم په شانتي نکيتن کښې هغه د ډېر لږ وخت دپاره پاتې شوی وو خو په دې لږ وخت کښې ئې هم له هغه ځايه ډېر څۀ اخذ کړي وو او که څۀ لږ نور هم هلته پاتې شوی وی نوامکان کېدلی شو چې غني خان به نن د دنيا نامتو

مصـور او مجسـمه سـاز پـه توګـه پېژنـدل شـوی وی، دهغـهٔ اسـتاذ ننـدلال بـوس هـم ددې معتـرف وو، چـې کـه غنـې خـان دلتـه پرېښـودل شـي نوهغـه بـه یـو وخـت د هنـد سـتر او نـامتو مصـور وبللـې شـي، پرتـه لـه دې هغـه پـه خپلـه هـم دفنـون لطیفـه ډېـر معتقـد وو ځکـه خـو ئـې لـه باچـاخـان سـره ددې فـن پـه حوالـه کلـك اخـتلاف ښـکاره کړی ؤ. لکه یوځائ غني خان لیکي:

*"I am great admire of Bacha Khan,"says Ghani", he was one of the finest Pashtoon that I have known.But we differed on somethings.I strongly uphold the views that you can live whith out art, but you can not progress whith out it"*.23

بیـا هغـه مهـال کلـه چـې غنـي خـان لـه سیاسـت توبـه ګـار شـولو او ګوشـه نشـیني یـې اختیـار کړلـه نـو یـې خپـل کـور د"دارالامـان" پـه حیثیـت ځـان تـه وټـاکلو او هلتـه ئـې ځـان دفنـونِ لطیفـه پـه مشـاغلو کښـې بوخـت وسـاتلو. د فنـون لطیفـه (مصـوري او مجسـمه سـازي) پـه اړه دهغـوئ ډېـرې نمـونې موجـودې دي، چـې نمائشـونه هـم وربانـدې شـوي دي، خـو دغـه فـن (مصـوري او مجسـمه سـازي) هغـهٔ دفـنِ موسـیقۍ پـه شـان کلـه هـم د پېشـې پـه توګـه اختیـار نـهٔ کـړی شـوبلکې دا یـې دیـوې اضـافي مشـغلې او د ذاتـې شـوق پـه حېثیـت اختیـار کـړی وو. خـو دا هـم یـو حقیقت دی چې:

"هغوئ کله هم د خپلو فن پارو قیمت و نهٔ لګولو.24

پـه یـوه داسـې روایتـي او سـخت دریـزه مـذهبي ټولنـه کښـې چرتـه چـې د فنـونِ لطیفـه مشـاغل کفـر او یـا د کرکـې وړ فعـل پـه توګـه یـادولی شـي، هلتـه ډېـر کـم امکـان وي چـې فـن کـاران دې پـه دې اړه یـو عمـومي رجحـان ولري، کـه څـهٔ هـم د مصـورۍ پـه تـاریخ کښـې دې فـنِ تـه دعظمـت او لوړتیـا وربخښـلوداعتراف پـه حقلـه ښـکلي اوشـاهکار بابونـه د مسـلمانانو خـدماتو تـه وقـف شـوي دي او دا هـم حقیقـت دی چـې دنـړۍ پـه ځنـې لوړحیثیـت آرټ کـدو کښـې لاتراوسـه دمسلمانانودمصـورۍ د فـن نـادره اونایـاب فـن پـارې ځوړنـدې دي، خـو د نـور و قومونوپـه نسـبت پـه دافـن کښـې پـه خپلـه د افغانـانو ونـډه ډېـره کمـه یـا بېخـي د نشـت برابـره ده، داځکـه چـې د مـذهبي رجحـان لـه رویـه ددوئ مـزاج دې تـه امـاده نـهٔ وو، البتـه پـه شـلمه پېړۍ کښـې لـه دې ټـولني څخـه یـو داسـې شخصـیت راپورتـه کېـږي کـوم چـې پـه پښتوشـعر او ادب کښـې لـه ډول ډول نویـو تجربـاتو پـه اسـاس پـه مصـورۍ اومجسـمه سـازۍ کښـې هـم د خپـل ملـت نـوم روښـانه کـوي، دا

شخصیت چې مونږ ئې دغني خان په نامه سره پېژندل شوی هغه ستر مصوراو مجسمه ساز په توګه یادېږي چې یې دکلکو ټولنیزو او مذهبي بندویزونو باوجود بیاهم په داسیمه دې فن ته ځلا او پرمختیا وربخښلې ده.

په تصویرونو او مجسمو کښې هغهٔ محض ځېرې (څهرې) نقش کړې دي او په دې کښې چې کوم سنجیده تاثر لیدهٔ شي هغه د پښتني ټولنې د تاریخي عمل یو تسلسل ښکاري چې ئې د هغوئ په فن پاروکښې نمودکړی او دغه نمود دپښتنو د ښکلا، جمال او د جلال لویه فلسفه تشکیلوي.

غني خان یو داسې فن کار وو چې د داخلي احساس د اظهار په لاره کښې ئې کله هم خنډ نهٔ دی محسوس کړی، که ئې د شعر له لارې اظهار ځنډېدلی نو ئې په نثر کښې افکار شیندلي او که ئې په نثرکښې ستړیا محسوسه کړئې ده نو ئې د رنګ او برش، د خټو او یا د تشې په سمون خپل داخلي احساس ته لارې برابرې کړې دي. غرض دا چې هغه د فن د اظهار په مقابل کښې هېڅ خنډ منلو ته تیارنهٔ وو، شیان به چې څهٔ رنګه ورته ښهٔ ښکاره کېدل یا څهٔ رنګه هغهٔ وراندې کول غوښتل. هم هغه ډول یې د وړاندې کولو تابیاکړې ده.

دهغوئ دتېکنیک اویادرنګونوداستعمال په حقله ډاکټرفضل رحیم مروت لیکي،

*"Ghani had practiced different techniques in his work.He had used oil colour, pastels and acrylic but prefers pastels through which he can transfer his brief,but intensive inspiration,in a short time on paper.He was an abstract impressionist.An impressionist presents nature according to other people''.*25

او په مجسمه سازۍ کښې د هغوئ د انفرادیت په اړه داسې لیکي:

*''Like Painting Ghani,s sculptures also consist of only faces,which are like living picture,s of human sentiment.Ghani Khan has put tongue into the mouth of stones through his art''.*26

د هغوئ د مصورۍ او مجسمه سازۍ یوډول اظهارهغه دی کوم چې هغهٔ نېغ په نېغه په تصویرونو یا مجسمو کښې منقش کړی او بل هغه چې ورته شاعرانه مصوري وئېل کېږي.

هغه څوک چې دغني خان د شعر ژوتیا ته رسېدلی شي او یا د هغهٔ د شعر په باطن کښې پټ په رقص اخته محرك کردارونه محسوسولی شي هغوئ ته

دامحـض شـعرونه نـهٔ دي بلکـې دا هغـه ژونـدي کردارونـه یاګویانـه منـاظر دي چـې د رسا فکراونظرلرونکیو خاوندانو ته دستېج د ډرامې په څېر ویړیا دي .

غنـي خـان دهـر رنـګ پـه پـس منظـر پـوره خبـردی ځکـه خـو کلـه دسـپین ،کلـه دتـور او کلـه دشـین رنـګ اوصـاف لـه عـام ژونـد څخـه اخلي او پـه عـام ژونـد کښـې د هغې پـه اطـلاق بحث کـوي هغـه کـه دکـوم رنـګ سـتاینه کـوي یـا ئـې غندنـه کـوي نـو پـه دې پـوهېږي چـې هـر رنـګ لـه ژونـد څخـه مـاخوذ دی او ژونـد پـه خپلـه د رنګونـو او یا د رنګونو د اضدادو مجموعه ده.

پـه لانـدینیو اشـعاروکښـې چـې لـه نظـم "رنګونـه" څخـه اخسـتل شـوي دي د غني خان د شاعرانه مصورۍ یو ښکلی نقش رانښائي .

*سـپین سـره مـې نـهٔ لګـي :: سـپین دی د ریـا رنـګ*
*سـپین دی د کفـن رنـګ :: سـپین دی د فنـا رنـګ*

او د تور رنګ په حقله داسې وائي،

*تـور دی د شـیطان لبـاس :: تـوره د انکـار تـوره*
*تـورې د غـم سـترګې دي :: تـور دی د بـلا رنـګ27*

او سور رنګ ځکه خوښوي چې:

*سـره ده د ځـوانۍ نشـه :: سـور دی د بهـار رنـګ*
*سـور دی د پالنـګ او :: د خوبـانو د دلـدار رنـګ28*

شـین رنـګ ئـې ځکـه خـوښ دی چـې داسـمان رنـګ شـین دی او پـه خپلـه د دهٔ د سـترګو رنـګ هـم شـین دی او دا چـې شـین رنـګ د وفـا او خوشـحالۍ علامـت هـم ګڼل کېږي.

*شـنې د غنـي سـترګې دي :: شـین دی د وفـا رنـګ*
*شـنه د امیـد پانـه ده :: شـین دی د صـبا رنـګ*
*شـین دی د سـپرلي :: د خوشـحالو او د خنـدا رنـګ29*

د شـاعرانه مصـورۍ پـه اړه دغنـي خـان لـه نـورو ډېـرو اشـعارو پرتـه لانـدینی ښکلی شعرته هم توجه وکړئ:

*دا مصـور پـه خپـل رنـګ مسـرور :: ټـول جهـان مسـت و سرشـار وینـي*
*ډنډ کښې ځپې او خندا د سیند :: څاڅکي کښې مځ د ابشار ویني 30*

پـه عـزم او ولولـه کښـې هغـهٔ دعمرلحـاظ نـهٔ دی سـاتلی او هغـه څـوك چـې ئـې د هغـهٔ د عمـر تقاضـې تـه توجـه وړې ده، يـا ئـې دا وئيلـې چـې هغـه اوس ددې نـهٔ دی چـې د ښـکليو د زلفـو، رخسـار، لـب او چشـمان دې د پـه خـوا پـه څېـر وڅيـري، غنـي و هغوته محض دا وائي چې:

*زهٔ يـم ناسـت ځـان لـه جانـان يـو تصـور کښـې جوړومـه*
*کلـه يـې سـترګې تورومـه کلـه يـې شـونډې ښـکلومه*
*خلـق وائـي لاړ بـوډا شـو غنـي خپلـې مسـتۍ وخـوړ*
*زهٔ يـم ناسـت د يـار وېښـتو کښـې د نـرګس ګلونـه ږدمـه* **31**

پـه "د يـو داسـې" نـومي نظـم کښـې هغـهٔ چـې د هنـدوانود منـدرد و ينـزو د حسـن، معصـوميت، وفـا، محبـت او منـدر تـه د هغـوئ د خـدماتو منظرکشـي چـې پـه کـوم هنرسـره کړئـې ده هغـه ځـان تـه يـو خونـدور کيفيـت خـور وي، د منظرکشـۍ په حواله د هغهٔ دې انداز ته په لاندينۍ اشعارو کښې توجه وکړئ.

*وخـت يـو بـل پـړاو پـوروه کـهٔ يـوه بلـه شـپه پـه تلـو شـو*
*چـا کـره تېـره د چـا غېـږ کښـې، پـه چـا تېـره پـه سـلګو شـوه*

*مـا هـم تېـره کـړه پـه ناسـتې، د رنګونـو پـه جهـان کښـې*
*هـوش اوو رنـګ بـه مـې يـو ځـای کـړل، جـوړول مـې تصـويرونه*

*د زړهٔ غـم بـه مـې ور خـور کـړ، د چـا ښـکلي پـه احسـاس کښـې*
*مـړاوې مـړاوې بـه يـې نظـر شـو سـوي سـوي شـان رنګونـه*

*تـور او سـور دوه رنګـه واخلـم :: چنګېـز يـا تېمـور جـوړ کـړم*
*د دوئ سـترګو کښـې دا قهـر :: زمـا اوو وهـي تېپونـه*

*مـا تـه يـې وې اې منصـوره! :: ماتـه وګـوره زهٔ څـه يـم*
*يـوه خـواره "د بـت و ينـزه" د کمينـو نـه کمينـه* **32**

# حوالې


۱. کهوکر، محفوظ، استاد ،راګ سروپ، لوک ورثه اشاعت ګهراسلام اباد ، مارچ، ۱۹۹۸ ،مخ.۵۱-۵۲

۲. عابد ، عابدعلي، سید.اسلوب، مجلس ترقئ ادب، لاهور.۱۹۷۱،مخ ۲۲۴-۲۲۵

۳. دغه بره، مخ ۲۲۳

۴. کهوکر، مخ ۵۵،۵۸،۶۸

۵. پهلواري، محمدجعفر، مولاناشاه، اسلام اور موسیقي، اداره ثقافت اسلامیه، ۲کلب روډ لاهور، ۱۹۹۰ .طبع سوم، مخ ۲۷

۶. ختټك، راج ولي شاه، ډاکټر.دپښتوادبي تحریکونه، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۹.مخ ۱۲

۷. دغه بره، مخ۱۳

۸. غني خان، پلوشې، پښتوټولنه کابل، ۱۳۳۹هـ ش.مخ ۶۰

۹. احسان الحق، پروفېسر، .اصول تنقید ،علمي بك هاوس چوك اردوبازار لاهور، ۱۹۸۸ ،مخ ۲۹۹

۱۰. دغه بره، مخ ۱۹۵-۹۶

۱۱. حسېن، محمدهادي، شاعري اورتخیل، مجلس ترقي ادب ۲کلب روډ لاهور، ۱۹۶۶،مخ ۱۰

۱۲. غني خان، پلوشې، مخ ۱۹۲

۱۳. دغه بره.مخ، ۶۰

۱۴. غني خان، دغني لټون، فرانټیرپوسټ پبلي کېشنز ۳۲ سټېډيم روډ پېښور، ۱۹۹۵، مخ ۴۴۳

۱۵. دغه بره، مخ ۵۰۲

۱۶. دغه بره، مخ ۵۰۷

۱۷. دغه بره، مخ ۶۷۲

۱۸. خ- ا،ی، سرورق کا مصور، مشموله سه ماهي ادبيات، اسلام اباد، گرما ۱۹۹۲، جلد ۵، شماره ۲۰، مخ سرورق.

۱۹. زوار حسين، دنيا تصويرکی تجريدي جماليات، مشموله سه ماهي ادبيات، اسلام اباد، گرما ۱۹۹۲،جلد ۵،شماره ۲۰،مخ ۱۴۵.

۲۰. دغه بره،

*21. Saleem Javid,"Abdul Ghani Khan Life and Works, M.A thesis, Pak Study Centre, University of Peshawar, 1991, p.57.*

*22.From:Zak@Khyber,pwr,sdnpk,undp.org(Zak)Subject:interview,Date.13th June,1997.*

*23. The Frontier Post, Daily Peshawar, Monday, March 31st, 1997.*

۲۴.غزنوي، خاطر، غني خان، مترجم، ډاکټر هدايت الله نعيم، مشموله ماهنامه پښتو، غني خان نمبر، پښتو اکېډمي، پېښور يونيورسټي، ۱۹۹۷، جلد ۲۹، شماره ۱ تا ، مخ ۱۱۷.

*25. FrontierPost, March 31st, 1997.*

*26. Ibid*

۲۷. غني خان، دغني لټون، مخ ۷۷

۲۸ دغه بره

۲۹. دغه بره

۳۰. غني خان، پلوشې، مخ ۱۹۲

۳۱. غني خان، دغني لټون، مخ۱۹۲

۳۲. دغه بره، مخ ۵۱۶-۵۱۷